پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۲/۱/۶

# دشـــعـــر ژبـــــه

د مها جرت په چاپيريال کې که دنوروستونزوترڅنګه،زموږپه فرهنګي ـ ادبي هڅوکې هم ستونزې رامنځ ته شوې دي.ددغوستونزود لړي کولوله پاره پټيبل شوې وه چې ځينې فرهنګي ـ ادبي مفاهيم بيا روښانه کړای شي(له ماسکونه خپريدونکې ليمه مجله،ځلورمه پرله پسې ګڼه)دا دی په دې مقاله کې به دشعر ژبه وڅيړم.

دشعر ژبه هغه ژبه ده چې کولای شي په ډير لوړقوت سره،په ډيره دقيقه توضيح اوښه تعريف سره دشاعر آزميښت داوريدونکې يا لوستونکي ذهن ته ورولېږدوي.دشعر ژبه هغه ژبه ده چې دکلماتوهراړخيزځواک ورسره وي.

ژبه په خپلوحرکاتو،په خپلوتصويرونواوپه خپلوغږونوسره شعرتقويه کوي اوهغه ته بډايتوب اوژوند وربښي.دشعر ژبه له فکرڅخه دشاعردشخصي اخيستنې يوازينی مدرک دی.که چيرې ځوک ديوه شعريا شاعرپه ژبه کې لاس وهنه کوي،په حقيقت کې دهغه فکر،اوله ژوند اوطبيعت څخه دهغه اخيستنې ته تاوان رسوي؛خوپه مقابل کې په نورو ليکنوکې پرته له دې چې مانا ته کوم ضررورسيږي،کيدای شي لاسوهنه په کې وشي.

د شاعرفکر،ليد لوری،پوهه اوله ژوند اوطبيعت څخه اخيستنه يوازې اويوازې کولای شوپه هغو کلماتوکې وپلټو،چې له ده څخه دشعرپه نامه راپاتې وي.

د شعرپه ژبه کې کلمات ـ دژان پل سارترپه خبره ـ د « شي » حيثيت لري،لکه په معمارۍ کې تيږې اوخښتې.دشعرپه ژبه کې کلمات يوازې دمانا له پلوه يوله بل سره توپيرنه لري،بلکې دکيفيت اوکميت له پلوه هم بيلابيلې ماناوې لري.

کالريج،له کلماتوسره دشاعردکارپه هکله داسې ليکي:

« پام مووي چې زه( په شعرکې)،ديوې کلمې دمانا په هکله يوازې دهغه شي په باب  چې دهغه مدلول وي،پاملرنه نه لرم،بلکې ټولې نورې هغه ماناوې چې ياده کلمه يې لري،په نظرکې لرم.»(صورواسباب در شعرامروزايران،۵۱مخ)

دغه رازيوبل پوه(ب ـ ګوري) په دې هکله داسې ويلي دي:

« په شعرکې کلمات له خپلې مانا څخه،چې دلغاتوپه فرهنګونوکې پيدا کيږي اويا په ورځنۍ محاوره کې کار ورنه اخستل کيږي،ډيرزيا ت دبيان قدرت لري.» (صورواسباب درشعر امروزايران،۵۱مخ)

«هراس» نومی پوه دشعردژبې په هکله په ډيردقت اوعالمانه ډول داسې ويلي دي:

«دشعر ژبه،يعني دبيان طرز،اوهغه کلمات چې په شعرونوکې کاريږي،ثابت اوتغيرنه منونکي نه دي،بلکې دوخت له غوښتنوسره سم بدلون کوي.»(سخن سنجي،۸۸مخ)

دنوم وړي پوه په عقيده،دشعردژبې وظيفه دا ده چې دشاعرآزمايښتونه(تجربې) بيان کړي.څنګه چې دغه تجربې په پرله پسې ډول بدلون مومي اوهره ګړۍ نوې تجربې دبشر دتجربوخزانه لاشتمنه کوي،نوهرکله چې دشعرژبه په رښتيا سره دبشري تجربوبيانوونکې وي؛نوبايده ده چې هره ورځ ځان دتجربوله دغې ورځنۍ ودې سره يوځای کړواوپرمخ ولاړشو.

دغه راز همدې پوه دشعردژبې دودې په باب ويلي دي:

« ژبه دونې حيثيت لري،اوکلمات يې دپاڼوپه شان دي.هرځومره چې وخت تيريږي اوددغې ونې عمرزياتيږي،نوزړې او ورستې پاڼې يې له ځانګوڅخه توېږي اونوې پاڼې پرې رازرغونيږي،خودونې په اصل اوذات کې کوم بدلون نه راځي.ونه څنګه چې وه،هغسې به وي.»(سخن سنجي،۸۸مخ)

په شعرکې تخيل اوعاطفه په مخامخ ډول له ټولنيز ژوند څخه الهام اخلي،ځکه دشاعرخواخوږي،اړيکې اودرزړه له کومې مينه اونورشاعرانه احساسات له ټولنې نه بهرنه دي هست شوي،بلکې دټولنيز ژوند انعکاسات دي.دشاعرنوښت په دې کې دی چې دټولنيزوتضادونواودهغوپه بې پايه روابطوکې نوې اړيکې پيدا کړي اودشعري ژبې له لارې يې بيان کړي.شاعر دغه حالت په ډيرلنډيزسره بيانوي،اوله هغه برسيره شاعر پيښه په هراړخيزه توګه نه ترسيموي،بلکې په هغه کې ټاکنه(انتخاب) کوي.دغه ټاکنه چې له ټولنيزواقعيت نه راپيدا شوې ده،په احساساتواوعاطفې سره مينځي اوپه ښکلې بڼه يې دشعري ژبې په واسطه انځوروي.له همدې امله ټينګار کيږي چې دشعريواصل بايدښکلی لنډيزوي.

دشعرژبه ځانګړې خصوصيات لري.داپه دې مانا چې دشعر ژبه بايد صيقل شوې اوښکلې وي.په شعرکې هره کلمه ځان ته بيله مانا لري اوزياتره دکلموله اصلي مانا سره شعري ماناوې توپير لري.په شعري ژبه کې دشاعراحساسات،عواطف اوتخيل وده کوي.

شعردکلماتوله يوځای کولوڅخه رامنځ ته کيږي،اودغه يوځای کول،کوم ساده ترکيب اودهغوی آشنايي نه ده.«...شعردکلماتودواده کولونتيجه ده،نه دکلماتوآشنايي له يوبل سره.» (صورواسباب درشعرامروزايران،۵۳ مخ)


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ددغوټولوخبروپه نظرکي نيولوسره،کله چي شعريادوو،هلته کلمات خاصي ماناوې اوځانګړې دريځ لري،چي دهمدغومفاهيموپه نظرکي نيولوسره کوم کلمات چې په شعرکي کارول کيږي اودخپلوخاصوماناووله مخې دشعري ژبې په نامه سره ياديږي.

مآخذونه:


۱ــ ليمه ( مجله )،له ماسکونه دري مياشتنۍ ادبي ـ فرهنګي خپرونه،د۱۹۹۹ م کال مارچ.
۲ــ صورتګرلطف علي،سخن سنجي،تهران، ۱۳۴۱کال.
۳ــ نوري علا اسماعيل،صورواسباب درشعرامروزايران،تهران۱۳۴۸کال،




افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ